# د ډاکټر محمد حسن کاکړ ژوند،

## علمي، سیاسي او ټولنیز فعالیتونه

منبع: دامریکا غږ

پوهاند محمد حسن کاکړ د افغانستان ستر مورخ، څیرونکی او لیکوال د ډیرو کتابونو او آثارو مولف د ۲۰۱۷ کال د جنوری په ۵ نیټه د امریکا په کلیفورنیا ایالت کي په یوه روغتون کي وفات شو. د دوشنبي په ورځ د جنوری په ۱۶ نیټه په لغمان ولایت کي خاورو ته وسپارل شو .



لیکوال حبیب الله رفیع د ښاغلي محمد حسن کاکړ د ژوند په اړه داسي وایي ،،پوهاند ډاکټر محمد حسن ددي کوښښ وکړ چي د افغانستان ملي تاریخ په ملي روحیه ولیکي، د افغانستان د تاریخ ملي ارزښتونه رابرسیره کړي او بلاخره د یوه دقیق محقق په حیث هر کتاب چي لیکي مستند یې ولیکي او د اصولو سره سم یې ولیکي. خصوصا هغه کتاب چي نوموړي په امیر عبدالرحمان خان لیکلی دی. په هغهکي یې د ډیر و احساساتو نه کار نه دی اخیستی او دغه راز یې د ډیورنډ په کرښه ډیري زیاتي مقالي لیکلي دي او کوښښ یې کړی دی چي ددي مسلي ملي اړ خ روښانه کړي.،،

لیکوال رفیعزیاتوي،، کله چي روسان کابل ته د پرچمیانو په وخت کي راغلل نو ډاکټر محمد حسن کاکړ د استادانو اتحادیه جوړه کړه، او په هغه وخت کي دا ډیر لوي جرت و چي ده وکړ او د روسیي د تسلط په وړاندیي مبارزه او فعالیتونه شروع کړل. او له دي وجي بندي شو او په ډیره میرانه یي زاندن ته ملا تړلي وه او بیا چي کله پاکستان ته راغی نوهم آرام نه کښیناستی او ملي کسانو او حلقو کی د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

افغانستان د آزادئ دپاره يې مبارزه شروع کړه. د طالبانو دورهيي وغندله او کله چې امريکايانو مداخله وکړه هغه يې هم وغندله، نو دی يو داسي شخصيت و چې هيڅ غيرملي حرکت او غير ملي حکومت يې نشو منلی.،،

شاعر او ليکوال عبدالغفور ليوال د ډاکتر کاکړ په هکله وويل،، چې ښاغلی کاکړ ۱۵ کاله مخکي په لومړئ لويې جرګې کي د ګډون دپاره کابل ته راغی، نو په ډيرو مواردو مو ورسره بحثونه وکړل او هغه وخت د افغانستان سياستونو په ټاکلو کي ما د ډاکتر ملي او افغاني دريځ تر ډيره حده وپيږندی،،

عبدالغفور ليوال دا هم وويل چې ،، د افغانستان معاصر تاريخ تر ډير حده بهرنيانو د لسيزو راهيسي د خپلي زاويينه ليکه، کاکړ د لومړنيوو او حتی د يواځنيوو کسانو څخه و چې د افغانستان تاريخ يې په علمي ليکونو کي بهرنيانو ته وروپيژندی،،

دافغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پخواني وزير او د امريکا غږ پخواني خبريال عبدالباري جهاني د کاکړ په اړه وويل،، په امير عبدالرحمان خان باندې د کتابونو ليکل ډير جرأت غوښتی، چې ده وکړ، دعلمي خدماتو نه علاوه د کاکړ شخصيت ډير مهم دی، ټول ژوند يې پاک تير کړ. هيڅ يو مستعب ته يې سر ټيټ نه کړ او نه يې خدمت ورته وکړ.

په واشنګټن کې د امريکا غږ خبريال ډاکټر ضامن مومند وايي ، ،،د ډاکتر کاکړ دوی خاطري ډيري ورته مهمې دي، د ثور د کودتاه وروسته کوم وخت چې دی د پلچرخي په زندان کي بندی و، نو حکومتي کسانو ورته وويل چې تاسو دومره واوياست چې په افغانستان باندی د روسانو يرغل موجه دی. نو هغه انکار وکړ او ورته وويل چې زندان مو قبول دی خو د تاريخ سره خيانت نه کوم،،.

او بله خاطره دا چې ،، د پخواني جمهور ريس حامد کرزي په وخت کي ورته پيښنهاد وشو چې د مشرانو په جرګه کې به انتسابيتوګه غړي شي نو ډاکتر ورته وويل چې محقق يم او غوارم چې محقق پاته شم،،

مومند زياته کړه چې ،،ډاکتر کاکړ ورته و ويل چې دی هميش غواړي چې د افغانستان راتلونکي نسل ته مستندي ليکني پريږدي چې دافغانستان د ګټو او بهبود دپاره وي،،.

# د ډاکتر محمد حسن سوانح:

## کوچنيوالی او لومړی زده کړې:

محمد حسن کاکړ په ۱۹۲۹ ز يږديز کال کي د لغمان ولايت د اليشنګ درې د پلوټي په کلي کي د ميرزا فضل الحق کاکړ په کور کي زيږيدلی و. په ماشومتوب کي يې پلار وفات شو او لا تنکی ځوان و چې مور يې هم وفات شوه. لومړني زده کړې يې په لوي جومات کي پيل کړي او بيا يې د قلعه السراج په ښوونځي کي دوام ورکړ، تر نهم ټولګي پورې زده کړې په لغمان کي پوره کړي، او بيا کندهار ته لاړ هلته يې يو کال زده کړي د احمد شاه بابا ليسه کي وکړي. او بيا ورسته يې دوه کاله زده کړی د کابل په دارالمعلمين کي وکړی.

ډاکتر محمد حسن کاکړ په ۱۹۵۰ کال کي د غازي ليسي نه په لومړی درجه بريالی شو. نوموړی په ۱۹۵۳ کال کي د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کي شامل او په ۱۹۵۷ کال کي د دي پوهنځي د تاريخ د څانګي نه فارغ او په لومړی درجه بريالی شو.

## د مسلکي اود ټولنیزژوند لومړي ګلونه:

کاکړ د ادبیاتو د پوهنځي د فارغېدو وروسته په پښتو ټولنه کي مسلکي غړی او د کابل مجلې چلوونکی وټاکل شو. او ددی برسیرهیې د ادبیاتو په پوهنځي کې زده کونکو ته درس هم ورکاوه.

محمد حسن کاکړ لا محصل و چې د مایکل ستیوارټ کتاب «د برېټاني سیاسي سیستم» یې د انګلیسي ژبې نه په پښتو وژباړه چې د دغه خدمت په خاطر په ۱۹۵۷ کال کې د ابن سینا جایزه ورکړل شوه.هغه د «ماکسیم ګورکي د ادبیاتو په اړه» کتاب د انګلیسي نه په پښتو وژباړه چې پښتو ټولنې له خوا په ۱۹۶۹ کال کې خپور شو.

لومړي بهرني سفرونه او لوړې زده کړي

کاکړ په ۱۹۵۸ کال کې د یوه رسمي هیئت د غړي په توګه شوروي اتحاد او په بل کال امریکې ته سفرونه وکړل. نوموړی په ۱۹۶۱ کال کې د لوړو زده کړو لپاره لندن ته ولاړې . هلته یې لومړی د کابل پوهنتون شهادتنامه د لندن د پوهنتون د لسانس انډوله کړه او بیا یې د امیر عبدارحمن واکمني وڅیړله اود ماستري سند یې واخیست چې په ۱۹۷۱ کال کې «د افغانستان نتني سیاسي انکشافات» په نوم په لاهور کې چاپ شو.

## افغانستان ته راستانیدل:

محمد حسن کاکړ په ۱۹۶۸ کال کې د لندن نه افغانستان ته راستون شواو د کابل په پوهنتون کې د تاریخ د استاد په توګه کار پیل کړ.



د تدریس په جریان کې دوه کتابونه دیموکراسی در جهان امروز» او «تاریخ څه ته وایي؟» د انګلیسي نه په ترتیب سره په فارسي او پښتو وژباړل چې وروستی یې د کابل پوهنتون له خوا په ۱۹۷۰ کال کې خپور شو. نوموړي همدارنګه د سډني پینټر کتاب چې «د منځنیو پېړیو اروپا» نومیږي وژباړي.

## امریکا ته د لوړو زده کړه دپاره بیا تلل:

کاکړ په ۱۹۷۲ کال کې د نورولوړو زده کړو لپاره د فولبرایټ په سکالرشیپ د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او د پرنستن په پوهنتون کې یې د امیر عبدالرحمن په دورې نوره څېړنه پیل کړه او په ۱۹۷۵ کال کې یې هغه د هارورډ په پوهنتون کې بشپړه کړه چې په ۱۹۷۹ کال کې د ډاکټرۍ تېزس « د امیر عبد الرحمن په واکمنۍ کې حکومت او ټولنه» د امریکې د تکزاس د پوهنتون له خوا خپور شو.

نوموړي په دغه اثر سره د لندن د پوهنتون نه د ډاکټرۍ شهادتنامه تر لاسه کړه او په ۱۹۷۶ کال کېهیواد ته راستون او د کابل په پوهنتون کې د تاریخ د استاد په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړ.

په ۱۹۸۱ کال کې د کابل پوهنتون له خوا د ده څېړنیز اثر «افغان، افغانستان و مختصري از کوشش های افغان برای تاسیس دولت در هندوستان، ایران و افغانستان» په ۱۹۷۸ کال کې د کابل پوهنتون له خوا خپور شو.

## د ثور کودتا، بند او مهاجرت:

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل وروسته د حکومت پر ضد د سیاسي فعالیتونو له کبله بندي شو چې او بیا ورسته د نړیوال فشار په ورانډې د کابل رژیم اړ شو چې د پنځه کاله بند وروسته نوموړی د بدن څخه خلاص کړي.

د بند وروسته بیرته په پوهنتون کې استاد شو، خو د همدغه کال په پای کې له خپلې کورنۍسره پېښور ته ګډه شو. په ۱۹۸۹ کې د خپلې کورنۍ سره یوځای د امریکا متحده کال او د کالیفورنیا د ایالت په کانکرډ ښار کې ژوند پیل کړ.

## په مهاجرت کې سیاسي،عملي او ټولنیز فعالعتونه:

پوهاند ډاکتر کاکړ په ۱۹۹۰ کال کې د هغه غورځنګ غړی او بیا مشر شو چې موخه یې د لویې جرګې له لارې د افغانستان د مسلې حل و. ده د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د افغانستان د لانجې په هکله په غونډو کې لکه د استانبول، توکیو، اسلامي اسیا ، یونسکو، اهوس او تاشکند په کنفرانسونو کې ګډون وکړ او بیانیې یې ورکړې. ده د استانبول په سیمینار کې چې د ۲۰۰۷ کال د جولایي د میاشتې د۱۱-۱۳ نېټه دایر شوی و او د افغان مطالعاتو امریکایي موسسې او د پاکستان د مطالعاتو امریکایي موسسې له خوا تنظیم شوی و خپله وینا «د ډېورنډ کرښه، تاریخ، پایلې او راتلونکې» تر سر لیک لاندې وړاندې کړه. ده د توکیو په کنفرانس کې چې د جاپان د بهرنیو چارو وزارت له خوا د افغانستان په اړه جوړ شوی و، وینا وکړه.

کاکړ د اسلامي اسیا په کنفرانس کې چې په ۱۹۹۵ د اګست په میاشت کې د امریکې د جنګ د پوهنځي د بین المللي مطالعاتو او ستراتیژیک پروګرام له خوا جوړ شوی و خپله وینا وړاندې کړه.

کاکړ د یونسکو په کنفرانس کې چې په کابل کې په ۱۹۷۱ کال کې د کوشاني دورې په اړه جوړ شوی و خپله وینا واورله.

ده د ډنمارک د اهوس د ښار په کنفرانس کې د هندوکش د کلتور په اړه د موزګارد موزیم له خوا دایر شوی و برخه واخیسته. ده په ۱۹۵۸ کال کې د تاشکند «د افریقایي او اسیایي کنفرانس کې ونډه واخیسته.» ده همدارنګه د هیواد نه د باندې په افغاني او نورو خپرونو کې د افغانستان د کشالې په هکله لیکنې وکړې.

د کاکړ بل اثر چې «افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو بیان، ۱۸۸۶-۱۸۸۰» په ۱۹۷۱کال کې د لاهور عرفاني موسسې له خوا په انګلیسي ژبه خپور شو. د نوموړي بل اثر چې «د افغانستان په باب د ژینو جوړه» نومیږي په ۱۹۸۸ کال کې د وفا له خوا په پېښور کې چاپ شو. د کاکړ بل کتاب چې «جنګ دوم افغان-انګلیس» نومیږي د افغانستان اسلامي ملي محاذ له خوا په ۱۹۸۹ کال کې په پېښور کې چاپ شو. دغه اثر د سید نظیم سیدي او مجیب الرحمن امیري له خوا په پښتو اړول شوی او په لندن کې د افغان لیکوالو کلتوري ټولنې له خوا په ۲۰۰۸ کال کې خپور شو. ده په ۱۹۹۰ کال کې «افغانان د شپږ شپېتم کال په پسرلي کې له روسانو سره د جنګ په حال کې» لیکلې چې د سپین غر د کتاب چاپولو ټولنې له خوا په جرمني کې خپور شو.
کاکړ په ۱۹۹۵ کال کې په انګلیسي ژبه «افغانستان، شوروي یرغل او د افغانو ځواب» کتاب بشپړ کړ چې د کالیفورنیا پوهنتون له خوا خپور شو. نوموړي وروسته یو بل اثر چې «رښا او دفاع» نومیږي تدوین کړ چې په ۱۹۹۹ کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز له خوا په پېښور کې چاپ شو. ده په ۲۰۰۵ کال «طالبان او اسلامي بنسټ پالنه» او بیا د «باچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه» کتابونه ولیکل چې د افغانستان کلتوري ټولنې له خوا چاپ شول. په ۲۰۰۶ کال کې د ده یو بل مهم اثر «د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیکي تاریخ» په انګلیسي ژبه په هالنډ کې خپور شو چې اوس محترم سلیمي په پښتو ژباړلی او د چاپ لاندې دی
په ۲۰۰۷ کال کې د کاکړ له خوا د هومر بالابانس لیکنه: «د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان» د انګلیسي نه په پښتو وژباړله او د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا چاپ شوه. همدارنګه ده د انګلیسي نه د محمود طرزي خاطرې په پښتو و ژباړلې چې د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا په ۲۰۰۷ کال کې خپرې شوې.
په ۲۰۰۹ کال کې د ده بل اثر «د سرطان کودتا د افغانستان د اوردې بې ثباتې پیلامه» د افغانستان کلتوري ټولنې له خوا خپور شو. په ۲۰۱۰ کال کې د کاکړ دوه نور اثار: «زما غوره لیکنې» او «د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې» د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا خپاره شول. د نوموړي بل کتاب چې «پښتون، افغان، افغانستان» نومیږي په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا چاپ شو.
د پوهاند ډاکټر کاکړ بل اثر چې «د افغان-شوروي جګړه» نومیږي د «کاکړ تاریخي علمي بنسټ» له خوا په ۲۰۱۵ کال کې خپور شو. د نوموړي دوې ژباړې : «جنګ او زموږ نړۍ» د جان کیګن لیکنه او «د انسانتوب په اړه د اخلاق پوهنې پرنسپونه» د اندروس ورګا لیکنه د کاکړ تاریخي-علمي بنسټ له خوا په ۲۰۱۵ کال کې چاپ شوې دي.
کاکړ همدارنګه یو لړ مقالې چې په انګریزي ژبه لیکلي او په بیلو بیو خپرونو کې چاپ شوې دي. د هغو د جملې نه د ده څلور لندې لیکنې: «د افغان-شوروي جنګ»، «د معاصر افغانستان لنډ تاریخ»، «طالبان» او «کابل» په نومونو د معاصرې نړۍ د اکسفورد دایرته المعارف په لومړي، څلورم او اووم ټوکونو کې د اکسفورد پوهنتون له خوا په ۲۰۰۸ کال کې خپرې شوې دي. د کاکړ بله لیکنه چې «د افغانستان د اساسي قانون تاریخ» نومیږي په ۱۹۹۲ کال کې د ایرانیکا دایراته المعارف په لومړي ټوک کې د کولمبیا پوهنتون په نیویارک کې خپره کړې ده. همدارنګه د نوموړي یوه بله لیکنه چې «منځنۍ اسیا، د یوې سرېټې سیمې پرانېستل کېدلو پیل» په نوم یادیږي په انګیسي کښلې او په ۱۹۹۳ کال کې د وفا له خوا خپره شوه.
د نوموړي بله لیکنه چې «ایا دوی د افغانستان کشاله هواروللی شي؟» په ۱۹۸۸ کال کې په نیویارک کې په وال سټریټ ژورنال کې نشر شوه. د ده بله لیکنه چې «په ۱۹۷۳ کې د افغان پاچایي نسکورېدل» نومیږي په ۱۹۷۸ کال کې د منځنې ختیځ د مطالعاتو بین المللي ژورنال په نهمه شماره کې خپره شوې ده. بله مقاله یې چې «د افغانستان د

هزاره گانو ایلیدل» نومیړي په ۱۹۷۳ کال کې په نیویارک کې د اسیا ټولنې له خوا خپره شوه. د ده بله لیکنه چې «د معاصر افغانستان د تاریخ میلانونه» نومیږي د لویي دوپري او لنین البرت له خوا په تنظیم شوي کتاب کې «افغانستان په ۱۹۷۰ لسیزې کې» د پریګر موسسې له خوا په ۱۹۷۳ کال کې خپره شوه.
د افغانستان بېرته متحد کیدل ۱۸۸۰-۱۸۸۴ په نوم د ده لیکنه په ۱۹۷۰ کال کې د افغانستان د تاریخ ټولنې د افغانستان مجله کې خپره کړه.
کاکړ د ننه په هېواد کې او هم د هېواد نه د باندې په پښتو او پارسو کې د افغان چلوونکو په ورځپاڼو او مجلو کې د روانو او تاریخي موضوع ګانو په اړه ډېرې لیکنې خپرې شوې دي چې یو شمېر یې د ده په هغه کتاب کې چې «زما غوره لیکنې» نومیږي را غونډې شوې دي او یو شمېر یې راټولې شوې نه دي باید راټولې او د یوه کتاب په بڼه خپرې شي. د ده ځلور مهمې مقالې چې «د ډیورنډ توافق لیک باید ډېر د مخه باطل اعلان شوی وای»، «افغانستان، پاکستان او پښتونستان»، «پښتانه او د ډیورنډ توافق لیک» او «د ډیورنډ توافق لیک ته یوه وروستی کتنه» د هغو مقالو په ټولګه کې چې د «ډیورنډ د واحد ملت د بیلتون کرښه» نومیږي چې په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا چاپ شوې، خپرې شوې دي. دا مقالې د لیه په نوم دری میاشتنی مجالې کې هم خپرې شوې دي.

## ټولنیز فعالیتونه

نوموړی یو شمېر غیر اکاډمیک فعالیتونه کړي چې د ځینو نه یې لنډه یادونه کوو.
- کاکړ د۱۹۹۹ راهیسې د افغان کلتوري ټولنې غړی و.
- د ۱۹۹۴-۱۹۹۰ د افغانستان لپاره د یوه تمثیلي حکومت حرکت چې په لاس انجلس کې جوړ شوی و موسس غړی و.
۱۹۸۲-۱۹۸۷ کې د ځرخي پله په بندیتون کې د بندي کېدو له کبله د بین المللي عفوې د سازمان له خوا «د وجدان بندي» اعلان شو.
-نوموړی د افغانستان د استادانو او محصلانو د اتحادیې موسس غړی و چې د شوروي د یرغل نه تر ۱۹۸۲ کال پورې په کابل کې د شورویانو او د کارمل مزدور حکومت پر ضد پټه مبارزه پر مخ بیوله موسس غړی و.
-ده د ازاد ژورنالېست، خبرونکي او ویناکونکي په توګه د بي بي سي راډیو لپاره په پښتو او پاړسو کې لیکنې او ویناوې برابرولې چې هغه بیا په افغانستان راډیو کې خپرېدې. په دغه لړ کې ده د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره ۱۵۰ درسونه په پاړسو تیار کړي و.

-. د ۱۹۵۲-۱۹۵۰ په کابل کې د امریکې د کتابتون معلوماتي سرویس د چلوونکي مرستیال و او په دغه مهال یې انګرېزي ژبې کورسونو کې افغان زده کړیالو ته انګلیسي درسونه ورکول.
د ډاکټر محمد حسن کاکړ زوی کاوون کاکړ د فیس بوک د پاڼې څخه مو د محمد اقبال وزیري لینکه چې ډیره په تفصیل لیکې استفاده کړې او مننه ورڅخه کوو.
ډاکټر محمد حسن کاکړ کتابونه او ژباړې.
د ډاکټر محمد حسن کاکړ صیب هغه کتابونه چې هغه یا ژباړلی او یا یې خپله لیکي تاسو کولای شي چي په دهغو لینکو کلک کولو دلاري دهغو کتابو ولولي.

د افغانستان سياسي او ډيپلوماتيک تاريخ.

https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsbEs٣MWFSMTN٢S…/view…

افغانستان، د شوروي يرغل او د افغانو ځواب، ١٩٧٩،١٩٨٢
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsZGctUmFYemllV…/view…

د امير عبدلراحمان په دوران کي حکومت او دافغانستان ټولنه.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsb٢RqRlc٣NWFqW…/view…
د ډاکتر صيب ځيني خاصي ليکنو آثار

https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsakZwdEtZRDVxQ…/view…

افغان شوروي جګړه.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsN٢V٢ZVZMX١hhR…/view…

د جنيوا موافقه او افغانستان.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsRktxYWRXejNTM…/view…

د ١٩٧٨ کال د ثور کوديتا او د هغي بدترنه پايلي
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsMm٨١UGdQVldvW…/view…

د سرطان کوديتا، په افغانستان کي د اوږدمهالی بي ثباتي له امل.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsb٠l٥TFJlLVo٥c…/view…

د غازي امان الله خان د باچايي دوري ته بيا کتنه:
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsQkRnVThjeG٥wY…/view…

د لنډی مودی خاطري:
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsNWxJWVl٤ZEtOR…/view…

هيوادته يو سفر، طالبان او افراطي اسلام.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsY٠hqWnc١VFkwM…/view…

د ډاکتر صيب اوسني حالات، تاريخ، او د نفوس په اړه مختليف مضامين:
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsbGZmUDlUTjhQM…/view…
ژباړي، د کابل سلطنت، ليکوال مونسټراټ الپستون.
ژباړه ، محمد حسن کاکړ.
https://drive.google.com/…/٠B٧h-dd٢BPS٢XbHQ٠U١FpQnJsR…/view…
تاريخ څه ته وايي؟
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsRUNqd٢JVSVdUd…/view…

جنګ او زموږ هيواد.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsYjFVVWZya٢٩fU…/view…
بشريت، او داخلاقو اصول.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wseDR٤dGtiRG١DN…/view…

د علم تاريخ او پوهاوي تعريفول.
https://drive.google.com/…/٠BzJp_mPL-١wsWU٨٣SUwycFNaR…/view…

د افغانانو او د انګريزانو دوهمه جګړه.

https://drive.google.com/…/۰BzJp_mPL-۱wsY۰۵vUFFFMXBrc…/view…

په یوه کتاب کې افغانستان په تيرو پنځو پيړيو کښي.
https://drive.google.com/…/۰BzJp_mPL-۱wsOVdnQWsxOVMzO…/view…

د ډيورنډ د موافقي پښتو ژباړه.
https://drive.google.com/…/۰BzJp_mPL-۱wsc۰Q۱Zk۰ySU۹jS…/view…

پښتون، افغان، او افغانستان.
https://drive.google.com/…/۰BzJp_mPL-۱wscl۹nZEd۰TnVXW…/view…

افغان، افغانستان او په افغانستان او هند کې د سازمانو جوړيښت.
https://drive.google.com/…/۰BzJp_mPL-۱wsWkhhRUQwMUNiT…/view